مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

استاد شهسوار سنگروال ۲۰۱۸/۰۱/۱۰

# اتمر قانوني،

## دوه سیاسي یاران؛که دوه سیا سي ځانمرګي!؟

په دې وروستیو کې د ولسمشریزو ټاکنو په تړاو یوشمېرتودې خبرې د ژبې په سردې اولا کله، چې یونس قا نوني؛ په اصطلاح؛ د جمېعت ګوند په استا زیتوب غرېز پیغام خپور کړ چې ولسمشریزو ټاکنو ته ولاړ حنیف اتمر د دوئ تولې غوښتنې منلې دي... لاپه دې سره د سیاست لوبه ګرمه شوه.

### د یونس قانوني د غرېز پیغام د انګېرنو غټ ټکي دا دي:

- لومړی لما نه وغوښتل شول چې د لومړي مرستیال په توګه د حنیف اتمر دټا کنېزټکټ برخه شم ...
- اتمر ورسره منلې ده چې د ولسمشرواک به کموي، ولسمشربه درې مرستیالان لري اود صدارت چوکی به هم د دولت په تشکیل کې ځاي پیدا کوي...
- قیادي شورا به را مېنځته کوي او والیان به نیم انتخابي وي، له رياستي نظامه به نیمه ریاستي نظام ته لاره پرا نیزي...
- که بد لون را نشي ما ته مرستیالي هیڅ اهمیت نه لري...د ولسمشرئ چوکی خو هغسي هم تاجکانو ته نه رسېږي...

یونس قانوني په داسې حال کې، چې په شونډویې زر زر ژبه تېروله خبرې کولې او داسې یې ښودله چې ګنې زه خو د چوکۍ لیونی نه یمه لومړی لما سره د جمیعت غم دی او بیا په تولنه کې د تاجکانو!؟

کله کله دا غټ نومونه دومره غټ وي، چې د شخصیت ورتیا ترې په آسا نه نشي ځرګندېدلی، خوکله چې خپله خوله په خبرو پرانیزي نوبیا ترې د شخصي او تولنیزو ګټو پر بنسټ، د شخصیت ځرک ښه لګېدلی شي...

وګورئ هغه یونس قانوني، چې د جمېعت او په ځانګړې ډول د؛ نظار شورا مغزمتفکر وو ،په خپلوځرګند ونویې د خپلې ورتیا اندازوټاکله.

همدا رنګه راځو د حنیف اتمرځرګندونوته، چې په خپلوژمنتیا وویې آسمان په لوتوویشتلی دی...دا هغه اتمروو، چې یو وخت دی هم د اشرف غني د دولت؛ مغز متفکر؛ وو. دی ووچې تولې ټا کنې د ده په سلا او مشوره کېدې.

له بده مرغه چې په وروسته پاتې تولنو کې د اشخاصو ستاینې اوغندنې د یوه معیار پر بنسټ نه وي اوپه افغانستان کې هم موږ د ځنو کسانو په ستاینه کې دومره وړاندې ځو، چې بیرته نشورا ګرځېدی اوکه راګرځونوملاموما تیږي.همدارنګه یوڅوک دومره غندو،چې خبرې مواغراق اوغلوته رسېږي.

موږولیدل،چې قا نوني لاپې وکړې،چې ګنې ما سره دتا جکانوغم دی،ولې هغه تا جکان چې له غریبي اوبېوځلې سره لاس اوګریوان دي اوتا سوقا نوني صاحب،چې په میلونونوډ ا لروجایداد موترلاسه کړیدی له دې بېوسوتا جکانوسره دي څومره مرسته کړېده؟

دېا م ورخبره خوداده،چې دقانوني صا حب مېرمنه پښتنه ده دننګرهاردکامي اوسېدونکې ده،ولې اولادونه یې په پښتونپو هېږي.

داچې اتمرصیب له ده سره ژمنه کړېده،چې نیمه ریاستي نظام به پلي کوي اوصدا رتې نظا م ته به لارپرا نیزي،والیان به نیمه انتخا بې کوي. ایا دا تولې لاپې دفدرا لیزم لپاره یوه سریزه نشوګنلی ؟

ښه اتمرصیب که چېرې تا سودا واک ترلاسه کړی،چې دقا نوني صیب پرمټ خداي مکړه ولسمشرشوی...ایا تا سوځان ددې جوګه ګڼئ چې له اساسي قانون پرته روانه معا مله سرته ورسوئ؟

د خواشنئ خبره خوداده،چې ولې موږ دتا ریخ پاڼوته سرنه وربنکاره کوو؟ په تېره دتاریخ هغه وروستئ پېښې اوغمیزې،چې دهېواد کنډوالي لاتر اوسه هم نه دي رغول شوي...دهغوشهیدانواولادونه لاتراوسه په تن پټ شوي نه دي،چې دتېرولسیزوغملړلې میراث دی اوبیا دهغو غمیزوپېښی،چې اوس هم دولس په اوږوبارېدی...دا دهغونا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

وړوپېښواومعا ملوپا يله ده چي دقا نوني صيب اواتمرصيب سياسي مشرانودغه ډول معا ملي پيل کړې وې ،چي ځوبېلګې يې دساري په توګه
يا دوو:
- د وخت د بهرنېيو چارو وزيرعبدالوکيل، د ګوند د سياسي بېروغړو، کاوياني، فريدمزدک محمودبريالي..پرېکړه وکړه،چې دځا ن سا تنې په موخه دخپلوشخصي ګټوپر بنسټ ولسمشرنجيب وګواښي،نوځکه يې ددوستم ملېشا يې ځواکونه کا بل ته را وبلل اوله جميعت ګوند سره يې يوه نوې معا مله پيل کړه .
-نجيب اله چي تردې دمه دوسله والوځوا کونوسراعلی قومندان وو،له دې څخه نه ووخبرچي ددوستم وسله وال کا بل ته را بلل.
په دې تړاو د جمهور ريس سلاکار محمد اسحق توخي ليکلي دي چي: «د حمل په ۲۶ نېټې(۱۳۷۱ کال) په هماغه ګړی چي د دوستم ياغي ملېشاوې کابل ته ولېږدول شوې زه حاضر وم چي د کورنيو چارو وزير راز محمد پکتين د تلېفون په کرښه ورته خبر ورکړ. جمهور ريس، جنرال عبدالفتاح ته چي د هوايي او مدافع هوايي قومندان وه تليفون وکړ چې راغلي ځواکونه له هوايي ډګره وباسي او د نورو د راتګ مخه ډب کړي...»[1]
د جنرال دوستم د ځواکونو مخه ځکه و نه نيول شوه چي پخپله د دولت پوځي او ګوندي چاروا کي لکه جنرال عظيمي او کاوياني... په دې کودتا کي ښکېل ول، دوی په دې لټه کي شول چي د شمالي ټلوالي پنوم يوه شورا جوړه کړي. که څه هم محقق په ډېرې چټکي ځان مسعود ته ورسوه. په سر کي دغه شورا چي پايته و نه رسېده جوړه شوه چي ريس يې احمدشاه مسعود، مرستيال يې محقق او پوځي مشر جنرال عبدالرشيد دوستم ټاکل شوی وو، دا چي ولي وروسته مسعود له دېنه سرغړونه وکړه ښايي يو لامل به يې دا وو، ده کوښښ کا وه چي په سر کي دوستم د خپلو سياسي او پوځي موخو لپاره و کاروي په ځانګړي ډول د حکمتيار په وړاندې. ولي وروسته پېښو وښوده چي د هغه ترشا د ببرک کارمل ډلي شتون درلود او هغه ته يې داسي سلا ورکوله چي دی د يوه سياسي او پوځي مشر په توګه وځلېږي.
کله چي نجيب الله په دې پوه شو چي د هېواد واک يې نور له ګروت نه وتلی دی، په دې لټه کي شو چي له هېواد نه پېښې سپکې کړي.
که څه هم ده تر پايه داسي ښوده چي د افغانستان واک لا اوس هم د ده په لاس کي دی. په ځانګړي ډول د مزار پېښې ته يې هم داسي رنګ ورکوه چي د ده استازی جنرال عظيمي اوس هم د ده د واک سمبول دی.
نومورې د خپلو پلويانو پر مټ او د کابل په ډله ييزو رسانيو، مهالنيو او ورځپانو کي داسي ښودله چي د مزارشريف مبارکه جنډه به د ده د لېږل شوي پلاوي له خوا (په سر کي عظيمي)جګېږي.
که څه هم عظيمي د مزارشريف د دوديزو مراسمو په تړاو د ځان ستاينې په ترڅ کي د نجيب الله په اړه کاږلي دي چي: «ماته دوکتور نجيب الله تلېفون وکړ چي زما راديو يې وينا دې واورېده؟ مهمې خبرې مې وکړې او ومې ويل ځومره چي زر سوله راشي، د ملګرو ملتو د طرحې پر بنسټ به له دندی استعفا وکړم.ولي واک ته به تر هغې دوام ورکړم تر هغې چي لنډ مهاله حکومت جوړېږي. (موخه يې ۱۵ کسيزه شورا وه)
ملګری عظيمي، ته غم مه خوره، تا او جنرال دوستم ته ځوک څه نشي ويلی. د هغوی موخه زه وم چي پخپله خوښه مې استعفاوکړه. من برايش ګفتم ډاکتر صاحب استعفا شما قبل از وقت است...»
که حقيقت همداسي وي چي ده رښتيا ورته ويلي وي چي استعفا مخکي له وخته ده... خو دا حقيقت دی، ولي دا هم حقيقت دی چي عظيمي پخپله ليکنه کي ډېره مبالغه کړېده، او دا چي ځومره د استعفا خبره ده، دا د نجيب الله لويه تاريخي تېروتنه ځکه وه چي د دولت په پوځي او ملکي چاروا کو يې ناوړه اغېزه وکړه او د تنظيمونو لوټ او چور ته يې لاره اواره کړه.
دا ځکه چي کابل له جنوب ختيځ او شمال له خوا کلابند شو او د مسعود وسلوالو د مزار له سکوت نه ۲۴ ورځي وروسته د حمل وري په ۲۲نېټي (۱۳۷۱ کال) سالنګونه او جبل سراج لاندې کړ او دوه ورځي وروسته په ۲۵ نېټي د چاريکار او ښار تر بګرامه پورې د شورای نظار په ولکه کي پرېووت.
نجيب الله چي وليدل د مسعود ځواکونه (د حمل ۲۵) بګرام ته ورسېدل او د دوستم ځواکونو (۲۶ نېټه) د کابل هوايي ډګر کي ځای پر ځای شول. نو يوه ورځ وروسته د حمل وري په ۲۷ نېټي نجيب الله وپتېله چي له بنين سيوان سره اړيکه ونيسي، چي له کابل نه د ډيلي په نيت هېواد پرېږدي. جنرال مجيد روزي او جنرال عبدالرازق چي د مخي د محمود بريالي، کاوياني فريد مزدک او د بهرنيو چارو وزير عبدالوکيل له خوا خبرتيا ترلاسه کړې وه چي نجيب الله د بنين سيوان په ځانګړې الوتکه کي نن له افغانستان نه اوځي.
بنين سيوان هم نجيب ته دا خبره کړې وه چي د لنډ مهال حکومت د پنځلس (۱۵) کسيزې شورا وړانديز هم دا دی چي دی له افغانستان نه ووځي نو دوی به کابل ته ننوځي.
ولي ولسمشر په خپلو يادښتونو کي دې مسالي ته داسي ګوته نيولي ده: زه په پرلپسي توګه له کابل نه پاکستان ته له بنين سيوان سره په اړيکه کي وم، هغه ماته ډاډ راکړ چي د«کمېټې» کار بشپړ شوی دی او په دې ترڅ کي غوښتنه کړې ده چي د جمعې په ورځ نجيب الله بايد له کابل نه بهر شي، او اوس چي پنجشنبي شپه وه ياني د پنجشنبي ورځ دغه کار ترسره شي...


افغان جرمن آنلاين په درنښت ناسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

وه مي ليده چي د شپې دوه بجې دي د بنين سيوان درې مرستيالان او دوه سياسي او يو تن پوځي «لمبريک قصر» ته راغلل او وې ويل چي بنين سيوان د کابل هوايي ډګر کي کلابند دی، نه يې پرېږدي چي ښکته شي، ورته وايي بېرته والوځه.
تلېفون ته لاړم، ومي ليده چي تلېفون پرې شوی دی او کار نه کوي.
پرته له دې چي خپل موټر ته تم شم، د ملګرو ملتو په موټر کي، زه، جفسر، احمدزی او توخی سپاره شووچي ګارنيزيون ته لاړ شو تر څو معلوم کړو چي ولي بنين سيوان ته اجازه نه ورکوي. موږ يې په ځلورلارو کي ودرولو، شپې نوم مو ورکړ، ځان مي ور وپېژند، راته ويې ويل ومي پېژندلي، ريس صاحب يې، خو اجازه نشته... ناڅاپي د ملګرو ملتو دفتر ته لاړم، ګارنيزيون ته مي تلېفون وکړ چي غظيمي د تلېفون غوږی پورته کړ، ورته مي ويل: هرڅه چي کوې وې کړی خو بنين سيوان ته اجازه ورکړئ، کنه مسؤليت به يې د تاسو په غاړه وي. عظيمي راته وويل: صاحب! هوايي ډګر د لوچکانو په لاس کي دی، نيوهېږو چي څه کوي. دا دی زه او دلاور هوايي ډګر ته ځو، بنين سيوان راولو...
ځلور بجې وې چي عظيمي راغی رسم و تعظيم يې وکړ او بنين سيوان هم ورسره وه، راته وې ويل: څو زره پوش او ځواکونه به ستا امنيت ساتي خو پام چي د ملګرو ملتو له دفتر نه ونه اوځې، پدې بنسټ زه په «اسکاپ»کي پاتي شوم.»[2]
د دې ليکني له مخي ټولي پوښتني ځواب شوې نه دي بلکي يو شمېر پوښتني په خپل ځای دي، د ساري په توګه:
۱ – نجيب الله ولي خپل موټر ته تم نشو؟، دا چي تليفون قطع شوی وه، پکار وو چي يوازې د ده ساتونکي جفسر ګارنيزيون ته تللی وی او يا د ده سلاکار توخي... غوره به وه چي ده د جمهوري رياست درنښت ساتلی وی.
۲ – دا د پوښتني وړ دی چي د بنين سيوان مرستيالان راتللي شول او پخپله بنين سيوان ته اجازه نه وه، بلکه دا چي عظيمي په ډېرې اسانی سره ځي او بنين سيوان د ملګرو ملتو دفتر ته راولي.
۳ – هغه مهال چي عظيمي او پيګير له مزار نه شبرغان ته او له هغه ځايه پرته د نجيب الله له اجازی نه کابل ته راځي او بيا په ګارنيزيون کي د نوکريوال په ډول دنده اجرا کوي پخپله د پوښتني وړ ده! ولي دا خبره ښکاره ده چي د پوځي کودتا اصلي لوبغاړی عظيمي او سياسي کودتا چيان محمود بريالي، کاوياني، مزدک، کشتمند، وکيل... ول، دا څنګه شوني وه چي عظيمي، ولسمشر نجيب ته وايي چي ستا امنيت لپاره مي زره پوش د ملګرو ملتو دفتر ته څېرمه درولی دی...؟
له دې څرګندونو نه برېښي چي کودتا له مخه تنظيم شوې وه، ولي د ډاکټر نجيب الله، وتل هم چي بنين سيوان به راځي او دی به له کابله باسي او ډيلي ته به يې رسوي يو پلان شوی کار وه.
په دا سبا بنين سيوان په انترکانتيننتال هوټل کي خبريالانو ته د يوې پوښتني په ځواب کي وويل: دا چي نجيب الله چېرته دی؟ څه نشم ويلی، دا ځکه چي مساله ډېره پېچلې ده، خو دومره ويلی شم چي له افغانستان نه د هغه ايستل د ملګرو ملتو پلان دی.
جهادي تنظيمونه چي له شمال نه د خيرخاني تر پولو شمال لوېديځ نه پغمان، جنوب ختيځ نه د چار اسياب تر پولو پوري رسېدلي ول، احمدشاه مسعود، د ګلبدين حکمتيار له وېرې غوره و ګڼله چي د کارمل له ډلي او په ځانګړي ډول له جنرال دوستم سره يوځای د هغه مقابله وکړي.
نو په همدې بنسټ د بېلابېلو وسلوالو تنظيمونو استازي پدې نيت چي د افغانستان د اسلامي جهاد يوه عالي شورا را مينځته کړي، د دوی او د دولتي متحدينو په ګډون جبل السراج ته راغلل چي د کابل د اداري د واک چارې د يوه لنډ مهاله تشکيل له مخي ترلاسه کړي .
دادی اوس هم يونس قا نوني په خپلووړا نديزونوکي په قيا دي شورا تينګارکوي اوله حنيف اتمرنه غوا ړي،چي دده شرطونوته غا ړه کيږدي ...حا ل داچي ديونس قا نوني اواتمرفکري لارې سره بېلې دي،خود واک ګټلوليا ره د واړوله يوه ګريوانه سررا ووېست ...ولي هغه په سيا سي معا ملووکښيوالی ،چي په شخصي ګټوولاړوي اوتوليزې ګټي ګوا ښي،نودا به هغوسيا سي معا ملوته ورته وي،لکه څرنګه چي دمخه يي يا دونه وشوه .
حنيف اتمرته هم دا موهمه نه ده،چي په راتلونکي کي څه پيښيږي ،بلکي دی په دې اندوفکر کي دی،چي څرنګه واک ته ورسيږي ؟ يونس قانوني هم په داډول سياسي لوبوکي داسي لوبيدلی دی،چي بنا يي حنيف اتمرفکر هم نه وي کړی
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ